# د غني خان رومانيت او د خداے پاک تصور

[1*]Nasrullah Khan
[2**] Dr. Naila

**Abstract:**
Ghani Khan is one of the most distinctive voices in Pashto poetry, whose poetic vision blends Romanticism with deep spiritual consciousness. Romanticism in Ghani Khan's poetry is not Limited to love, beauty, and nature; rather, it serves as a gateway to metaphysical reflection and Self-realization. His romantic imagination elevates human emotions, individual freedom, Aesthetic pleasure, and rebellion against rigid social norms. Through symbols of nature, love, art, and the self, Ghani Khan presents a deeply personal and emotional worldview. Within this Romantic framework, Ghani Khan develops a unique and unconventional concept of God. Unlike Traditional theological representations, his perception of God is intimate, dynamic, and deeply connected to human experience. God, in his poetry, is not distant or fear-inducing but a presence felt through beauty, love, creativity, and inner struggle. Ghani Khan often questions ritualistic Religion and instead emphasizes sincerity, inner truth, and spiritual freedom. His poetic dialogue With God reflects both devotion and intellectual defiance, revealing a God who appreciates Honesty over conformity. This study explores how romanticism in Ghani Khan's poetry shapes and informs his distinctive conception of God. It argues that Ghani Khan's romantic sensibility Transforms divine understanding from a rigid doctrinal construct into a living, experiential Reality, thereby offering a fresh and human-centered spiritual perspective within Pashto Literature.

**Keywords:** *Ghani Khan, Romantism, Pashto, adab*

**1:** Associate Professor Department of Pashto ICP
2: Lecturer GGDC Rustam Mardan

دا د فطرت قانون دے چې د وخت سره سره به بدلیږي. په دې نړۍ بلها انقلابونه راغلي دي او دغه سلسله لا جاري ده ولې نن ئې شکلونه یا صورتونه بدل شوي دي. چا په زور، چا په زرو او چا په قلم د دغه د مخنیوي کوشش کړے دے. په دغه قلمکارانو کښې یؤ د پښتو ژبې او ادب روښانه نامه غني خان هم ځانګړے کردار لوبولے دے.

غني خان د پښتو د شلمې صدۍ هغه شاعر دے چې په تمامي پښتو شاعرۍ کښې ئې ځانته جدا مکتب فکر پیدا کړے دے ـ که په عمومي توګه وکتلے شي نو د روښاني شاعرانو د تصوف د وحدت الوجود ګنجلکه شاعري، د خوشحال قامي، مزاحمتي، هجویه او هر اړخیزه رنګ، د رحمان خوش اسلوبي، اخلاقیات، عشقیه رنګونه، د حمید مومند نازک خیال او امرد پرستانه جمالیات او بیا چې تر حمزه شینواري رارسي نو په زړه پیاله کښې نوي شراب غوندې رنګ پښتو شاعرۍ وخت په وخت اخستے دے ـ په دې پس منظر کښې غني خان یو مستانه رومانې او عام فهمه ګویائي هم هغه کمال ته رسولې ده چې هغه په کښې نن د خپل اسلوب مالک دے ـ په دې حواله باندې ډاکټر محمد اعظم اعظم لیکي چې :

"د پښتو ادب او د پښتو ادب لوستونکو د پاره د غني خان نامه د انقلاب یو علامت دے ـ دا قهرمان او جالوان شاعر کۀ یو خوا د فکر او تخیل لۀ غاړې د پښتو شاعرۍ لۀ یو نوي بشپړه څهره ورکړه نو بل خوا ئې د اسلوب او بیان یوه داسې جدیده پیرایه خپله کړه چې هغه د غني خپله وه د بیان پۀ دغه پیرایه کښې د هیڅ قسمه شعوري او تقلیدي زیار لیدے نۀ شي او د اسلوب دغه انداز کښې سراسر یوه سادګي او بې ساختګي پربښې چې رنګینۍ ترینه ځاربږي."[1]

دا د غني خان یوه جدا ځانګړنه ده چې د هغوي اسلوبیاتي او فکري رنګ داسې دے چې تر دې دمه ئې څوک فلسفي شاعر ګڼي، څوک قامي شاعر او ډېر په کښې د صوفي شاعر دعوٰی هم کوي ـ پۀ دې لړ کښې په موضوع د غني خان رومانیت او د هغۀ د خدائے تصور باندې بحث کولے شي ولې د دغه بحث نه وړاندې ضروري ده چې د رومانیت تعارف وشي او پۀ دې کښې د خدائے پاک پۀ تصور باندې رڼا واچولے شي ـ

رومانیت پۀ عامه اصطلاح کښې د انسان کلهمي ازادۍ ته وئیلې شي ـ هغه ازادي چې یو انسان خپل کړۀ وړۀ، خپل ضمیر، خپل تحریر او خپل حق د کوم جبر پابند ونۀ ګڼي. ځکه د رومانیت د تحریک سبب هم د ژے ژاک روسو دغه وړه غوندې مقوله ګڼلے شي چې هغه وائي :

"Man is Born free But every he is in chains[2]"

سړے ازاد پیدا دے خو چې چرته ګورې نو بندي دے ـ

دغه وړه غوندې خبره کښې ډېر زور فلسفیانه بحث پروت دے ـ د رومانیت پۀ نظر کښې انسانان ازاد پیدا شوي دي ـ خو دا چې نن څوک پۀ کوم حال دے او څوک پۀ کوم حال دے نو دا پۀ اصل کښې دوي پۀ خپله ځان سره کړي دي ـ ولې چې انسان کښې حرص او لالچ د وخت سره سره هغه څۀ کړي دي چې نن انسان پۀ مختلفو دایرو کښې رابند دے ـ پۀ دې حواله باندې ډاکټر ساجد علي لیکي چې :

”هر کله چې فرانس د مذهبي، نسلي او طبقاتي استحصال نه ساه واخسته نو د نوي نسل د پاره ئې هر هغه زاړهٔ او فرسوده روايات رد کړل د کوم د لاسه چې د فرانس اولس د جهالت سره مخ وو. تر دې چې د پوپ او چرچ يعني د مذهب نه ئې هم اختيار واخست او اقتدار اعلیٰ ئې د ملک هر فرد وګرځوه ـ دې انقلاب سره د يورپ پهٔ ذهنيت کښې هم بلها بدلون راغلو چې د ژوند د نورو شعبو سره سره ئې ادب هم متاثره کړو او د زوړ ادب کوم چې کلاسيکي ادب ګڼلے شو د کومې پېروي کول چې لازمي وه رد شو او د هغې پهٔ ضد چې کوم نوے ادب تخليق شو نو رومانيت چې د رومانټيسزم اصطلاح ورته ورکړې.“[3]

هر کله چې رومانيت يو افاقي رنګ واخستو او د يو تحريک پهٔ توګه ئې پهٔ ټوله دنيا کښې ځان له فکري ملګري پيدا کول نو وروستو هم د دې تحريک نقادانو او ځينې پوهانو د دې د پاره خصوصيات وټاکل چې په کښې بنيادي مباحث د انسان فکري ازادي وګرځېدل ـ پهٔ دغه فکري مباحثو کښې رومانيت يعني رومانټسيزم د دنيا پهٔ ټولو ادبياتو باندې خور شو. د رومانيت چې بنيادي کوم خصوصيات پوهانو پهٔ ګوته کړي دي پهٔ هغې کښې فطرت پرستي، جذبات نګاري، باغيانه افکار او روايت ضد افکار ـ خو د دغه ټولو اقدارو چې مجموعي خبره کېږي نو مطلب ازاد طبيعت ته رجوع کول ـ

هر کله چې رومانيت د دغه قسمه بحثونو موضوعات راوړي او غواړي چې مروجه ټولې مصنوعي دايرې دې ماتې شي ـ انسان دې هغه څهٔ وکړي کوم چې د هغهٔ زړهٔ غواړي ـ خو دلته يوه خبره بايد پاکه وي چې انسان دې خپله ازادي واخلي خو داسې نا چې د خپلې ازادئ د پاره د بل انسان ازادي مجروحه کړي ـ ځکه کهٔ انسان د خپل زړهٔ ومني نو پهٔ رومانيت هم دغه سوال هر څوک وچتوي چې زړهٔ خو اکثر هغه څهٔ وئيل غواړي کوم چې د ټولنې د پاره يا د نورو انسانانو د پاره زحمت هم ګرځېدے شي ـ نو رومانيت د دې پهٔ جواب کښې وائي چې کهٔ کوم انسان د خپل زړهٔ خواهش د پاره د بل خواهش ختموي يو تکليف رسوي نو دا حرص او حسد دے ولې انسان پيدائشي معصومه فرښت دے ـ دغه حرص او حسد پهٔ دهٔ کښې د ټولنې او خارجي عواملو نه راپيدا کېږي ـ هم پهٔ دغه سوالونو کښې يو سوال پهٔ رومانيت دا هم راولاړېږي چې انسان کهٔ فرض کړه د ټولو دايرو نه ځان مبرّا کوي يا د دې نه ځان وباسي نو د خدائے تصور ته به په کښې کوم مقام حاصلېږي ـ د دې مطلب دا شو چې ګڼې رومانيت به خالص پهٔ (ايتهيزم) ولاړ وي ؟ ـ پهٔ هم دغه پس منظر کښې دلته د غنې د خدائے پهٔ تصور باندې خبره وړاندې کولے شي ـ

رومانيت چې انسان ته ازادي ورکوي نو د زړهٔ او د جذبو د قدر پهٔ تول ئې ورکوي ـ هيڅ کله پهٔ دې خبره زور نهٔ راوړي چې تهٔ يوه خبره ومنه ـ پهٔ دغه کښې د انسان د خدائے يعني د مذهب تصور هم دے ـ رومانيت وائي چې ستا زړهٔ به د مينې هغه جذبه لري چې هغه به پهٔ تا باندې ادائه لري، ځکه چې درد، مينه، عشق، غم او خوشحالي د خوبئ او ناخوبئ سره تعلق لري او دغه پيمانه د هر انسان د بل نه بدله ده ـ بيا چې کله د خدائے پاک تصور راشي او يا د هغهٔ سره د مينې تصور راشي نو رومانيت وائي انسان دې خدائے هغسې ومني څنګه ئې چې د هغهٔ زړهٔ مني ـ خو هغه خدائے دې هيڅ کله ونهٔ مني چې څوک ئې پهٔ تا باندې پهٔ زور مني او ځکه خدائے پاک خپل ځان يو عالمګير تصور کړے هم دے ـ يوه معنٰی کښې هغهٔ (رب العالمين دے) رب العربين، يا مسلمين نهٔ دے ـ کهٔ پهٔ څنګلونو کښې هم کوم انسان د خدائے تصور

لري نو هغې دې ورسره د خپلو جذباتو غونډې مينه ولري ـ الله پاک خپله هم په قران کښې بار بار د (قلب او قلوب) اصطلاح راوړي او حکم هم کوي چې تاسو ايمان د زړۀ نه راوړئ ـ

کۀ چرې پۀ دې پس منظر کښې د وحدت الوجود تصور وکتلے شي نو مجموعي تأثر به ئې داسې شي چې صوفيانه شاعري خالص د رومانيت پۀ بنياد کېږي ـ ولې چې انسان د خپل عشق جنون هغه حد ته ورسوي چې هر څۀ هغۀ ته د خدائے پاک يو (ذات) ښکاري ـ پۀ دې حقله باندې سجاد ژوندون وائي چې:

> کۀ د وحدت الوجود غوښتنه وګورو نو هغه د سر په سترګو هيڅ هم نۀ تسليموي ـ بلکې هغوي چې کوم څۀ وينې هغه عام د عقل او منطق خاوندان نۀ ويني ـ رومانيت په هر لحاظ د مذهب قايل دے خو د هغه مذهب کوم چې د انسان په زړۀ کښې دے د هغه خدائے کوم سره چې د دۀ روح رشته لري۔ رومانيت د مذهب د هغه خلقو په ضد په کار کېږي چرته چې مذهب په انسان د جبر د پاره استعمالېږي ـ رومانيت د هغه خدائے او مذهب قايل دے کوم چې د انسان شخصي تصور وي او وحدت الوجود د انسان د زړۀ سره تعلق ساتي غوره رومانيت دے ـ"4

اوس کۀ د رومانيت پۀ تناظر کښې د وحدالوجود شاعري وپلټلې شي نو بهترينه نمونه ده ځکه چې د خدائے د ذات سره مينه دومره د حد درجې ته رسي چې عام انسان دغه جذبه احساسولے هم نۀ شي ـ لکه چې دلته د صوفيانه افکارو ځينې شعرونه وړاندې کولے شي :

"پۀ هر څۀ کښې نندارہ د هغه مخ کړم
چې لۀ ډېرې پيدائی نه ناپديد شو"5

"شا تر تا و تا نزدې دے
بل روح مۀ دروهه بعيده"6

"دا زما د يار جلوه ده چې ليده شي
پۀ کعبه پۀ سومعه پۀ صومنات"7

"يا خو هيڅ نشته دا واړه وهم او خيال دے
او کۀ وي نو بس د يار به وي وجود"8

پۀ مذکوره شعرونو کښې کۀ يو خوا عرفان ځرګند دے نو بلخوا پۀ کښې د زړۀ خوښې دومره پۀ شدت سره ښودلے شوي ده چې د رومانيت غوره نمونه ده ـ

اوس چې د غني خان تصور رب يا تصور خدائے ته راځو نو غني خان د شلمې صدی هغه شاعر دے چې پۀ خپل شعر کښې ئې هيڅ د کوم روايت خيال نۀ دے ساتلے او دغه روايت پۀ ادبي يا فلسفيانه اصطلاح کښې کلاسيکي اقدارو ته هم ورته دے ـ يعني کۀ مونږه وګورو نو رومانيت دا دعوٰی کوي چې دا د کلاسيک يا روايتي افکارو پۀ ضد دے ـ غني خان پۀ دغو کښې د خدائے پاک تصور هم د ټولنيز او مذهبي روايتي تصور نه زيات پۀ جمالياتي انداز کښې وړاندې کړے دے ـ د غني خان پۀ تصور کښې چې د کوم خدائے سره مينه ده هغه مينه د هيڅ کوم څۀ پۀ بدل نۀ ده ـ يعني د خدائے هغه تصور چې پۀ روايتي توګه ورسره مينه د جنت پۀ بدل، د دوزخ نه د خلاصې، پۀ دنيا کښې د مال او جائيداد يا نورو کومو غوښتنو پۀ بدل کېږي ـ خو غني خان چې خدائے پاک سره د مينې بنياد ږدي نو پۀ داسې انداز ئې ږدي چې خدائے پاک ته وائي چې تۀ ما ته حُورې او غلمان ولې د خپلې مينې پۀ بدل کښې راکوې يا يادوې زما خو مينه تا سره داسې ده چې هيڅ لالچ د دغه تصور نۀ لرم لکه دا شعر چې :

”ماته څوري غلمان مۀ ښندوه بس که
پۀ والله کۀ بې لتا مې پۀ چا کار شي“[9]

راويت وائي چې الله پاک ته هر وخت منت او زارۍ کوئ، پۀ عاجزۍ او پۀ خاکسارۍ ترې نه هر څۀ غواړئ ـ خو بل طرف ته د غني خان تصور دے چې خداے پاک خو رحمان او رحيم ذات دے۔ د يۆ روايت تو مخه هغه د خپل انسان سره د اوياۋ مېندو هومره مينه کوي ـ د يوې مور مينه داسې وي چې ماشوم ترې نه پۀ ناز او نخرو هر څۀ غواړي او دا ئې پۀ خوښه ورکوي نو کۀ دغه مينه د اوياۋ مېندو پۀ حساب وي نو بيا خو يو عجيبه د رحم پيمانه وي ـ غني خان هم ځکه خداے پاک ته وائي چې :

زۀ ئې پۀ غرور درنه د مينې پۀ نوم غواړم
زۀ ملنګ بې نيازه ستا د وير واويلا نۀ يمه“[10]

پۀ مذکوره شعرونو کښې غني خان يو خوا کۀ د خداے پاک تصور د مينې پۀ يوه انتها کښې پېش کوي نو بلخوا ئې د روايتي مينې انداز هم نۀ دے خپل کړے او رومانيت هم دغې ته وائي ـ هم دغه رنګه رومانيت تصور لري چې انسان ځومره حرص ته زور ورکوي نو دومره د علم رياضۍ څخه کار اخلي ـ دا زما او دا ستا، دومره ستا او دومره زما هغه تصور دے چې نن ئې دنيا د بارودو پۀ ډېري ودرولې ده، خو دغه شماره کۀ څوک کوي چې تسبې ئې پۀ لاس وي او تصور کوي چې ما زر ځله خداے ياد کړو يا دومره دومره او ما ته به د دې پۀ بدل دا دا ملاوېږي نو غني خان د دغه روايت خلاف هم خپل خداے ته روماني اپروچ لرلے دے لکه وائي چې :

”تا تکۍ او نا تکۍ کړو
ما جانان ما دلربا کړو“[11]

”زما د مينه د ادب د پنجرې اوځي
وايه څومره دې جانان کړمه رب څومره“[12]

هم دغه رنګه غني خان باندې اکثر دا ګمان هم ځينې نقادان وکړي چې هغه ګنې د خداے نه ويزاره دے ـ خو دلته چې د غني خان شاعرۍ ته ګورو نو د خداے پاک د ذات سره يوه پرېمانه مينه په کښې پۀ چپو ده ـ د غني خان د دعا انداز هم روماني دے لکه وائي :

”يا مې سم د زړګي يار کړه!
زه به ځان درنه قربان کړم
يا دې ټکې تش ژوندون له
دې بل خر ولټوه
کۀ دعا وايې، دعا ده
کۀ ژړا وايې، ژړا ده
دا کړې وړې مې زده
نور هېڅ نۀ دي زده زما
تۀ د حسن دريابونه
زۀ يوه زره تياره يم
دا زما او ستا به څنګه
شي دوستي او يارانه؟[13]

هم دغه رنګه خداے پاک ثنا صفت چې بيانوي هم ئې پۀ داسې روماني انداز کښې ادا کوي چې د جمالياتي انداز په کښې ښېخې پۀ ځانګړې اسلوب کښې رابند دے ـ دلته ئې د نظم دغه څو ټکي پېش کولې شي چې دې موضوع ته د پائې ټکې ورکړي ـ غني خان خداے پاک ته ګويانه دے چې :

اے د ازلونو ابدونو لويه خدايه

ما ته ئي د ماشي او مېږي په ژبه وايه
دا درياب د حسن چې په واړه جهان خور دے
څۀ خو لږ ووايه چې راځي د کومه ځايه
ښاڅکي د شبنم کښې حادثې دي د سيندونو
پرخې اودې غېږه کښې پرتې دي د ګلونو
کوم خوا ته کاروان د مينې خود مستئ روان دے
دا په چا مئين دے کۀ خپل حسن ئې جانان دے
ځم خو ځم راځه چې ځو خو دا راسره غم دے
لاره ده رڼا کښې کۀ تيار کښې د دې ځايه"[14]

غرض دا چې دلته چې د مقالې کوم نچوړ را اوځي هغه په دې ډول دے چې رومانيت هيڅ کله هم د مذهب يا د خداے پاک د تصور نه انکار نۀ کوي او نۀ دا چې رومانيت کښې کوم اتهيزم پروت دے ـ بلکې پۀ رومانيت کښې د خداے پاک د جمال ننداره پۀ نوره هم ښکلې پيرايه کښې کيږي ـ د مغربي شاعرئ او د مشرقئ شاعرئ جاج کۀ د رومانيت پۀ رڼا کښې واخستې شي نو رومانيانو د خداے پاک تصور د نورو شاعرانو نه پۀ ښکلې پيرايه کښې وړاندې کړے دے ـ

## حوالې

---

[1] : اعظم، ډاکټر محمد اعظم، غنيات، باچاخان څېړنيز مرکز، پېښور، ۲۰۱۸، مخ: ۶۱

[2] :Jean-Jacques Rousseau **,The Social Contract, Oxford press, 1999, P-4**

[3] : ساجد علي، ډاکټر، د خوشحال پۀ کلام کښې افاقي تصورات، د پي ايچ ډي ناچاپه مقاله، پښتو څانګه، پېښور پوهنتون، ۲۰۲۱، مخ: ۷۴

[4] : ژوندون، سجاد، تصوف او عالمګيريت، مشموله شپږمياشتنى پښتو، پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون، جنور جون ۲۰۱۷، مخ: ۳۹

[5] : ختک، خوشحال خان، ارمغان خوشحال، يونيورسټي بک ايجنسي، پېښور، ۲۰۰۶، مخ: ۱۹۱

[6] : انصاري، مرزا خان، ديوان مرزاخان انصاري، مقدمه ډاکټر پرويز مهجور، پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون، ۲۰۰۷، مخ:۷۲

[7] : بابا، عبدالرحمان، ديوان عبدالرحمان، دانش خپرونديه ټولنه، کابل، ۲۰۱۹، مخ: ۹۴

[8] : شينواري، اميرحمزه، غزونې، کتاب کور، پېښور، ۲۰۲۱، مخ: ۱۶۲

[9] : غني خان، لټون، يونيورسټي پبلشر، ۲۰۲۱، مخ: ۹۳

[10] : همدا کتاب، مخ: ۴۸۹

[11] : همدا کتاب، مخ: ۲۰۱

[12] : همدا کتاب،مخ: ۴۰۹

[13] : همدا کتاب، مخ: ۸۹

[14] : همدا کتاب، مخ: ۷۸